# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

**www.afgazad.com**　　**afgazad@gmail.com**

| سیاسی | Political |
|---|---|



انجینر داؤد اڅک

۲۸ جنوری ۲۰۲۳

## د ژوند فلسفه

ور ته ګـــورم چـي تېرېږي قافله د ژوندون　　را تــه خانـدي او کميږي خـزانـه د ژوندون
رژيـږي هــره ورځ د ژونــــد د ګـلو پــاڼـي　　دم ګـــړئ لنـــډيـــږي پـــروســـه د ژونـــدون
جهـان دی لـوی ځنګل د نعمتونو، مفهومونــو　　نېکي ځني را واخله، همدغـه ده قيصه د ژوندون
نه پيسه، نه ښــه ماڼۍ، نه ښه ځواني پاتيـږي　　فقط پاتيږي، يو ښــه نوم او خاطره د ژوندون
نـه خپلـــه يـم راغلی نه پخپلـه خوښـه ځمــه　　همدې ته جبر وايي، همدغه فلسفه د ژوندون
ښه دی او که بد، تېرېږي پر پاچا او ګدا دواړو　　هم دلته عدالت دی هم دغه کرشمه د ژوندون

همداسي ملنګ ګرځه چي مغرور نسي داؤده
شـاهـانـو او غټانو، هم منلي خاتمه د ژوندون

۲۷ ـ ۱ ـ ۲۰۲۳